مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ١٦٨** (از ۲۲ الی ۲۹ جوزا ۱۳۹۵ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه........ ۲

## زېربنايي پروژې: د اوبو بندونه او وروستي پرمختګونه

- د بندونو جوړولو اړتیا........ ۴
- په افغانستان کې د بندونو جوړولو وړتیاوې........ ۵
- سلما، کجکي او بخش‌آباد بندونه........ ٦
- د اوبو بندونو د جوړولو پر وړاندې ننګونې........ ۷

## حکومت وحدت ملی و اصلاح نظام انتخاباتی

- نیاز به اصلاحات انتخاباتی........ ۹
- فرمان‌های تقنینی رئیس جمهور........ ۹
- نظر مردم در قبال اصلاحات انتخاباتی (سروی)........ ۱۱
- نتیجه‌گیری........ ۱۳

## مقدمه

په هرات کې سلما بند چې د هند له خوا جوړ شوی، ګټې اخېستنې ته وسپارل شو او تر څنګ يې په تېرو څو ورځو کې د دوو نورو بندونو د جوړولو قراردادونه هم لاسليک شول. سلما بند د ۴۲ مېګاواټه برېښنا د تولید او شاوخوا ۷۵ زره هکتاره ځمکې خړوبولو وړتيا لري او همدا راز کجکي او بخش‌اباد بندونه به هم په ترتیب سره د ۱۵۱ او ۲۷ مېګاواټه برېښنا د تولید وړتيا ولري.

د افغانستان په بېلابېلو سيمو کې د زيات شمېر بندونو د جوړېدلو وړتيا شته ده؛ خو دا چې د دغو زېربنايي پروژو د پلي کېدو پر وړاندې څه ستونزې او ننګونې شته دي او په دې برخه کې وروستي پرمختګونه څومره هیله‌ببښونکي دي؟ په اړه يې د دې اوونۍ تحلیل په لومړۍ برخه کې شننه لولئ.

د تحلیل په دويمه برخه کې، د ولسي جرګې له خوا د انتخاباتي نظام د سمون اړوند د ولسمشر د تقنیني فرمان د ردېدلو په اړه لولئ. تېره اوونۍ ولسي جرګې د ولسمشر تقنیني فرمان د دويم ځل لپاره په غوڅ اکثریت رد کړ. د ملي وحدت حکومت د سیاسي هوکړه‌لیک له مخې له پارلماني ټاکنو وړاندې باید د افغانستان انتخاباتي نظام اصلاح شي؛ خو دا قضیه اوس په یوه معما بدله شوې او د راتلونکو پارلماني ټاکنو برخلیک له پراخو ابهاماتوسر ه مخ دی.

پوښتنه دا ده، چې د انتخاباتي اصلاحاتو د سمون قضيه ولې د حکومت او ولسي جرګې ترمنځ په کشمکش بدله شوه؟ عام خلک په دې اړه څه نظر لري او بالاخره د انتخاباتي کمیسیونونو او انتخاباتي سیستم اصلاحات او د راتلونکو پارلماني ټاکنو برخلیک په کوم لوري روان دی؟

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز د اوونيز تحليل ځانګړې، شننې او څېړنې لولئ.

# زېربنايي پروژې: د اوبو بندونه او وروستي پرمختگونه




له تېرو دوو اوونیو راهیسې په بې‌مخینې ډول د هېواد په کچه د زېربناوو (اوبو بندونو) په برخه کې پرمختگونه ولیدل شول. په هرات کې د سلما بند په جوړولو کې له ۴۰ کاله لوړو-ژورو وروسته، د ۲۰۱٦ کال د جون پر ۴مه د هند لومړي وزیر نارېندرا مودي او افغان ولسمشر اشرف غني د ځانگړو مراسمو پر مهال د دغه بند پرانیسته‌وکړه.

د سلما بند له پرانیستلو وروسته، د هلمند د کجکي د بربېښنا بند د پراختیا هوکړه‌لیک هم له ترکي-امریکایي شرکت سره لاسلیک شو. د دغه هوکړه‌لیک له مخې، دغه شرکت به په درېیو میاشتو کې د کجکي بند د پراختیا پروپوزل تیاروي او له مخې به یې په درېیو کلونو کې چارې بشپړې شي. همدا راز د فراه د «بخش‌آباد» بند جوړولو په اړه هم افغان حکومت تېره اونۍ له یوه ایټالوي شرکت سره تفاهم‌لیک لاسلیک کړ.

دا چې زموږ په هېواد کې د بندونو د جوړولو څومره اړتیاوې او وړتیاوې دي؟ او دغه بندونه زموږ پر اقتصاد څومره اغېزې ښندي؟ په دې تحلیل کې پرې شننه کوو.

## د بندونو جوړولو اړتیا

په افغانستان کې د بندونو د جوړولو اړتیا د لاندې څو عواملو له کبله زیاته ده:

**لومړی؛ زراعت:** د افغانستان د کرنې وړ ځمکه ۹٦۱۰۰۰۰ هکتاره (یا ۹.٦۱ میلیون هکتاره) ده، چې دا بیا د افغانستان د ټولې ځمکې ۱۴.۷۳ سلنه جوړوي. د افغانستان له دغه کرنېوړ ځمکې څخه، یوازې شاوخوا ۵.۳۲۴ میلیونه هکتاره ځمکه کرل کېږي او پاتې ۴.۲۸٦ میلیونه هکتاره د کرنېوړ ځمکه همداسې پاتې کېږي. دا چې په افغانستان کې د کرنېوړ ځمکې څخه ۴.۲۸ میلیونه هکتاره ځمکه همداسې شاړه پاتې کېږي، یو عمده لامل یې د اوبو کمښت دی. خو د اوبو د بندونو له جوړېدو سره دغه ځمکې هم تر کښت لاندې راځي.

**دویم؛ برېښنا:** اوسمهال افغانستان د خپلې اړتیا وړ یوازې ۱۹ سلنه برېښنا په هېواد کې دننه تولیدوي او ۸۱ سلنه له ګاونډیو هېوادونو څخه واردوي. په دې توګه هر کال میلیونونه ډالره د برېښنا پر واردولو لګښتونه راځي. د افغانستان د برېښنا شرکت د معلوماتو له مخې، له ۲۰۰۷ کال راهیسې تر ۲۰۱۵ کال پورې افغانستان په دغو وارداتي برېښناوو تقریباً ۹۷۳ میلیون ډالره لګښت راغلی. دا په داسې حال کې چې افغانستان په خپله د برېښنا تولیدولو ډېر فرصتونه او ورتیاوې لري او په دې جمله کې یوازې له اوبو څخه تر ۲۳ زرو مېګاواټو پورې برېښنا تولیدېدلای شي. له اوبو څخه د برېښنا تولیدولو یوه بله ګټه د اوبو د زېرمه کولو هم ده، چې پورته ورته اشاره وشوه.

**درېیم؛ د طبیعي آفاتو مخنیوی:** هر کال د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې سېلابونه راځي، چې له کبله یې نه یوازې دا چې خلکو ته مالي او ځاني زیانونه اوړي، بلکې ډېرې سرسبزې او د کرنېوړ ځمکې هم له ځان سره ویجاړوي. د بندونو د جوړېدلو یوه ګټه دا هم ده، چې تر ډېره د دا ډول طبیعي آفاتو مخه نیسي.

**څلورم؛ راتلونکی وضعیت او د اوبو بحران:** شونې ده، چې په راتلونکو ۳۰ کلونو کې به د افغانستان نفوس دوه چنده شي، چې له امله به یې نورو ډېرو اوبو، د زیاتو ځمکو خړوبولو او برېښنا ته اړتیا وي. خو له بده مرغه د افغانستان ډېری اوبه دا مهال ګاونډیو هېوادونو ته ځي او په هېواد کې دننه یې د مهارولو په اړه کوم جامع عملي ګامونه نه دي اوچت شوي. دغه اوبه به په راتلونکو وختونو کې هم سیاست وي او هم به د جګړو یو له سترو لاملونو څخه وي.

## په افغانستان کې د بندونو جوړولو وړتیاوې

په افغانستان کې د اوبو او سیندونو پنځه حوزې دي، چې په ډېری برخو کې یې د بندونو جوړولو ډېرې وړتیاوې شته دي.

په مجموع کې د افغانستان په دغو پنځو حوزو کې لاندې بندونه په نښه شوي، چې په یو شمېر یې عملي کارونه پيل شوي، لکه (سلما او کجکي پراخول) او د یو شمېر نورو مطالعاتي ارزونې شوې، لکه (باغدره، سروبي-ب، کنړ-الف، کجکي-ب، ککچه، گلبهار، کامه، کنړ-ب، کیلگي)، او همدا راز یو شمېر نور بیا له مطالعاتي ارزونې مخکې پړاو کې دي، لکه (عالم باغ، لر آمو، دشت جم) بندونه.

په دغه لاندني جدول کې ۱۴ بندونه په نښه شوي، چې په مجموعي ډول به د ۷۳۹۷.۵ مېگاواټه برېښنا توليدولو وړتيا ولري او پر دغو ۱۴ بندونو به بیا ۱۷۷۲۰ میلیون ډالره لگښت راشي.

که څه هم له اوبو څخه د برېښنا د تولید د وړتیاوو په اړه کومه کره څېړنه او یا تحقیق نشته خو بیا هم په ټولیز ډول د انرژۍ کارپوهان په دې ټکي سره یوه خوله دي، چې په افغانستان کې له اوبو څخه تقریباً ۲۳ زره میگاواټه د برېښنا تولیدولو وړتیاوې شته دي، چې لړې بېلگې یې تاسو په لاندې جدول کې هم کتلای شئ.

### جدول-۱: د اوبو د برېښنايي بندونو جوړونې انتخابونه

| شمېر | پروژه | سیند | ولایت | ظرفیت (میگاواټه) | د پیل نېټه | اټکل شوی لگښت (میلیون ډالر) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | سلما | هريرود | هرات | ۴۰ | ۲۰۲۰ | ۲۰۰ |
| ۲ | کجکي پراخول | هلمند | هلمند | ۱۸.۵ | ۲۰۱۹ | ۹۰ |
| ۳ | باغدره | پنجشیر | کاپیسا/پروان | ۲۱۰ | ۲۰۲۱ | ٦۰۰ |
| ۴ | سروبي-۲ | کابل | لغمان | ۱۸۰ | ۲۰۲۱ | ۷۰۰ |
| ۵ | کنړ-الف | کنړ | کنړ | ۷۸۹ | ۲۰۲۲ | ۲۰۰۰ |
| ٦ | کجکي | هلمند | هلمند | ۱۰۰ | ۲۰۲۱ | ۳۰۰ |
| ۷ | ککچه | ککچه | بدخشان | ۴۴۵ | ۲۰۲۲ | ۱۴۰۰ |
| ۸ | گلبهار | پنجشیر | پنجشیر/بغلان | ۱۲۰ | ۲۰۲۱ | ۵۰۰ |
| ۹ | کامه | کنړ | ننگرهار | ۴۵ | ۲۰۲۱ | ۱۸۰ |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | کنړ-ب | کنړ | | ۳۰۰ | ۲۰۲۱ | ۶۰۰ |
| ۱۱ | کیلګي | | بغلان | ۶۰ | ۲۰۲۱ | ۲۵۰ |
| ۱۲ | علم باغ | هلمند | ارزگان | ۹۰ | ۲۰۲۱ | ۴۰۰ |
| ۱۳ | لر آمو | آمو دریا | | ۱۰۰۰ | ۲۰۲۳ | ۲۵۰۰ |
| ۱۴ | دشت جم | پیانج | | ۴۰۰۰ | ۲۰۲۳ | ۸۰۰۰ |

***ماخذ:*** *د «ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز» څېړنیز او تحلیلي کلنی راپور: ۱۳۹۴ لمریز کال.*

## سلما، کجکي او بخش‌آباد بندونه

که څه هم د سلما بند د جوړېدو کارونه له ۱۹۷۰ لسیزې راديخوا پیل شوي وو؛ خو دغه کارونه بیا وروسته د افغانستان د درېیو لسیزو جګړو له کبله اغېزمن شول او له ۲۰۰۱ کال وروسته د افغان حکومت په غوښتنه، هند پر دغه بند یو ځل بیا عملي کار پیل او اوس یې بشپړ کړ. د هند حکومت دغه بند د تقریباً ۲۹۰ میلیون ډالرو پر لګښت جوړ کړ، چې د ۴۲ میګاواټ پر ساعت برېښنا د تولیدولو وړتیا لري. کابو ۲.۵ لکه کورونه به په لومړي ځل رڼا کړي او د چیشت شریف، اوبې، پښتون زرغون، کرخ، ګوزاره، انجیل، زېندجان، کوشان او غوریان ولسوالیو د ۶۴۰ کلیو شاوخوا ۷۵ زره هکتاره ځمکه به هم خړوبه کړي.

په بل اړخ کې د کجکي بند چې اوسمهال د ۵۱ مېګاواټ پر ساعت برېښنا وړتیا لري، د نوي تفاهمنامې له کبله به یې د څلورو نویو توربینونو په نصبولو سره، د برېښنا وړتیا ۱۵۱ میګاواټه ته ورسېږي. د دې ترڅنګ دغه بند د شاوخوا ۱.۱ میلیارد متر مکعب اوبو د ذخیره کولو وړتیا هم لري او ډېره د کرنې وړ ځمکه به خړوبه کړي.

همدا راز تېره اوونۍ د فراه د بخش‌آباد بند جوړولو قرارداد هم له یوه ایټالوي شرکت سره لاسلیک شو او ښایي، چې تر ۱۸ میاشتو پورې یې چارې بشپړې شي. دغه بند د ۲۷ میګاواټه برېښنا تولیدولو او د یو میلیارد او درې سوه میلیون مکعب اوبو ذخیره کولو وړتیا لري، چې له امله به یې د فراه ولایت ۱۰۴ زره هکتاره ځمکه هم خړوبه شي.


## د اوبو بندونو د جوړولو پر وړاندې ننګونې

که څه هم د افغانستان د اوبو د بندونو د جوړولو په لاره کې به ډېرې ننګونې پرتې وي؛ خو دوې عمده ننګونې یې په لاندې ډول دي:

**مالي سرچینې او د پانګونې راجلبول:** افغانستان له اوبو څخه د برېښنا تولیدولو ډېرې ړتیاوې لري؛ خو د دغو بندونو جوړېدنه بیا ډېر مالي ملاتړ او سرچینو ته اړتیا لري، چې دا بیا د افغان حکومت او حکومتي بودیجې په وس کې نه ده. د بېلګې په ډول په پورتني جدول کې د ۱۴ بندونو پر جوړولو تقریباً ۱۷.۷ میلیارد ډالره لګښتونه راځي. په بل اړخ کې بهرني ملاتړي او بسپنه ورکوونکي هېوادونه هم د لویو بندونو جوړولو ته زړه نه ښه کوي؛ ځکه یو خو دا ډېرو پیسو ته اړتیا لري او بل دا ډېر وخت‌ګیر هم وي. همدا راز افغان حکومت تر اوسه نه دی توانېدلی چې بهرني پانګوال د بندونو جوړولو ته چمتو کړي. بهرني پانګوال د امنیتي وضعیت او له ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو د تړونونو د نه شتون له کبله، د هغو هېوادونو د مخالفتونو له کبله هم پانګونې ته زړه نه ښه کوي.

**امنیت:** بله تر ټولو لویه ننګونه په هېواد کې امنیتي وضعیت دی، چې له کبله یې پانګوال د افغانستان د انرژۍ په سکتور په تېره بیا د اوبو بندونو په جوړولو کې زړه نه ښه کوي. د تېرو ۱۵ کلونو تجربو هم دا ښودلې چې د اوبو مهارولو، د خولو تویولو ترخنګ د افغانانو وینه هم تویې کړې او د بندونو جوړېدل هم بالاخره د وینې تویېدلو له کبله شونې شوي دي.

# حکومت وحدت ملی و اصلاح نظام انتخاباتی



با گذشت نزدیک به دو سال از تشکیل حکومت وحدت ملی، قضیهٔ اصلاحات انتخاباتی افغانستان به یک معما برای این کشور تبدیل شده است. رئیس جمهور و رئیس اجرائیه در توافق‌نامهٔ حکومت وحدت ملی، تعهد جدی برای اصلاح نظام انتخاباتی سپردند، ولی نظر به مسیر پر خم و پیچ پروسهٔ اصلاحات انتخاباتی، به نظر می‌رسد این قضیه به یک بازی سیاسی مبدل گردیده است.

ولسی جرگهٔ افغانستان فرمان‌های تقنینی رئیس جمهور مبنی بر اصلاح نظام انتخاباتی را، یکی پی دیگری رد نمود. فرمان تقنینی اخیر رئیس جمهور به تاریخ 24 جوزا توسط اکثریت مطلق اعضای ولسی جرگه رد شد و ریاست جمهوری عدم تصویب این فرمان تقنینی را یک عقبگرد در عرصهٔ آوردن اصلاحات انتخاباتی خواند.

پرسش اینجاست که چرا روند اصلاحات انتخاباتی چالش برانگیز شده است؟ حکومت چه می‌خواهد، ولسی جرگه چه می‌خواهد؟ و بالآخره سرنوشت انتخابات آینده چه خواهد شد؟

## نیاز به اصلاحات انتخاباتی

پس از انتخابات جنجالی پارلمانی در سال ۱۳۸۹، باآنکه جنجال‌های ناشی از تقلب‌ها در انتخابات به زودی از میان برداشته شد، ولی به دلیل مشکلات در نظام انتخاباتی، قانون جدید انتخابات در سال ۱۳۹۲ توسط رئیس جمهور کرزی توشیح و توسط پارلمان تصویب گردید. در سال ۱۳۹۳ بار دیگر انتخابات ریاست جمهوری افغانستان با تقلب‌های گسترده همراه شد و کشمکش‌ها بر سر نتایج انتخابات چندین ماه طول کشید. پس از پادرمیانی جان کری وزیر خارجهٔ امریکا، میان دو تیم انتخاباتی روی حکومت وحدت ملی موافقه صورت گرفت و یکی از اساسی‌ترین مواد این توافق سیاسی، در مورد اصلاح نظام انتخاباتی بود.

پس از تشکیل حکومت وحدت ملی، تلاش جدی برای اصلاح نظام انتخاباتی صورت نگرفت و بعد از مدت‌ها تاخیر، کمیسیون ویژهٔ اصلاح نظام انتخاباتی تشکیل شد. این کمیسیون پیشنهاداتی را برای اصلاحات در نظام انتخاباتی ارائه نمود که رئیس جمهور افغانستان بربنیادش دو بار فرمان تقنینی را نیز صادر کرد ولی از جانب ولسی جرگه یکی پی دیگری رد گردید.

محرک اصلی تلاش‌های حکومت وحدت ملی برای اصلاحات انتخاباتی در سال اول این حکومت، آماده‌گی برای برگزاری انتخابات ولسی جرگه و شوراهای ولسوالی‌ها بود تا با برگزاری این انتخابات قانون اساسی تعدیل و پست ریاست اجرائیه قانونی گردد؛ اما در اوج بگومگوها در مورد ختم میعاد حکومت وحدت ملی پس از دو سال، جان کری وزیر خارجهٔ امریکا به کابل سفر کرد و با تفسیر توافق‌نامهٔ سیاسی حکومت وحدت ملی، عمر این حکومت را پنج سال خواند و به این ترتیب مشکل عدم مشروعیت حکومت پس از دو سال حل گردید.

## فرمان‌های تقنینی رئیس جمهور

دو فرمان تقنینی رئیس جمهور (فرمان شماره ۸۴ و ۸۵)[1]، که در مورد تعدیل قانون انتخابات و قانون تشکیلات کمیسیون‌های انتخاباتی بود، تغیرات عمدهٔ ذیل را بر اساس پیشنهادات کمیسیون ویژهٔ اصلاحات انتخاباتی در نظام انتخابات به میان آورده بود:

- تهیه لیست رای‌دهنده‌گان بر اساس تذکرهٔ رای دهنده‌گان؛
- تغیرات در ترکیب کمیتهٔ گزینش؛

[1] متن تعدیل یافته قانون انتخابات: http://moj.gov.af/content/files/OfficialGazette/01101/OG_01184.pdf

- تغیرات در ترکیب و حق تصدی کمیسیون مستقل انتخابات با تقلیل تعداد کمیشنران و متناوب ساختن دورۀ خدمت آنها؛
- تغیرات در معیارها برای گزینش کمیشنران کمیسیون مستقل شکایات انتخاباتی؛
- تغیرات در ترکیب ولسی جرگه (به شمول یک کرسی اضافه برای سیک‌ها و هندوها)؛
- تغیرات در ترکیب شوراهای ولایتی و شوراهای ولسوالی‌ها (تخصیص ٪۲۵ کرسی‌ها برای زنان)؛
- و استخدام استادان مکاتب و دیگر کارمندان ملکی به حیث کامندان مؤقت انتخاباتی.

پارلمان در ۲۱ دسامبر ۲۰۱۵، فرمان اول رئیس جمهور در مورد تعدیل در قانون تشکیلات نهادهای انتخاباتی و در ٢٦ دسامبر فرمان دیگر او را که مربوط به تعدیل قانون انتخابات بود، یکی پی دیگری رد نمود.

در ۵ مارچ ٢٠١٦، حکومت اعلان نمود که رئیس جمهور دو فرمان تقنینی دیگر (فرمان شماره ۱۵۸ و ۱۵۹)[2] را صادر نموده است. این فرمان‌ها نیز تقریباً همانند فرمان‌های قبلی بود و تنها در قسمت پروسۀ انتخاب اعضای کمیسیون‌های انتخاباتی تغیراتی آمده بود.

در ۲۳ اپریل ٢٠١٦، ریاست جمهوری فرمان مربوط به قانون تشکیلات نهادهای انتخاباتی را به پارلمان فرستاد. در این فرمان برعلاوه مسائل دیگر، در مورد ترکیب کمیتۀ گزینش نیز تغییراتی پیشنهاد شده بود که این فرمان نیز از سوی پارلمان رد شد. ریاست جمهوری فرمان مربوط به تعدیل قانون انتخابات را به پارلمان نفرستاد.

فرمان اخیر رئیس جمهور در مورد قانون تشکیلات بیشتر بحث برانگیز بود و تغیراتی را در ترکیب کمیتۀ کزینش پیشنهاد می‌نمود. تعیین رؤسای مجلسین پارلمان و ستره محکمه در ترکیب کمیتۀ گزینش، تهیۀ لیست رای دهنده‌گان به اساس تذکرۀ آنها، تغیر در ترکیب ولسی جرگه، تغیر در ترکیب شوراهای ولایتی و شوراهای ولسوالی، و استخدام استادان مکاتب و دیگر کارمندان ملکی به حیث کامندان مؤقت انتخاباتی از جمله موارد تغیراتی بودند که بعضی موارد آنها در فرامین قبلی که به پارلمان فرستاده شده بود، نیز شامل بودند. این فرمان نیز با اکثریت مطلق آرا به تاریخ 24 جوزا توسط نماینده‌گان در ولسی جرگه رد گردید.

با توجه با رد پی در پی فرمان‌های رئیس جمهور در مورد اصلا ح نظام انتخاباتی از جانب ولسی جرگه، واکنش این مجلس علیه اصلاحات انتخاباتی حکومت گرم‌تر به نظر رسید.

---

[2] متن قانون انتخابات پس از تعدیل دوم: http://moj.gov.af/content/files/OfficialGazette/01201/OG_01207.pdf

سهم ندادن به پارلمان در ترکیب کمیتهٔ گزینش عامل رد فرمان اول رئیس جمهور توسط ولسی جرگه پنداشته می‌شود و از همین‌رو در فرمان بعدی رئیس جمهور به رؤسای هر دو مجلس پارلمان افغانستان عضویت در این کمیته در نظر گرفته شده بود. ولی این فرمان نیز رد شد و این‌بار تاخیر در فرستادن فرمان به ولسی جرگه، دلیل رد آن گفته شد. (این فرمان باید یک ماه بعد از آغاز سال جدید به ولسی جرگه فرستاده می‌شد ولی حکومت آنرا دو ماه بعد فرستاد.)


از سوی دیگر، کمیسیون سمع شکایات انتخاباتی از رد فرمان رئیس جمهور توسط ولسی‌جرگه استقبال نمود و از مجلس سنا نیز خواستار رد این فرمان گردید. نادر محسنی سخنگوی این کمیسیون، اقدامات حکومت برای اصلاح سیستم انتخاباتی را غیرقانونی خواند و گفت که زیر نام تلاش‌های اصلاح نظام انتخاباتی، اهداف سیاسی نهفته است. به گفتهٔ او، در این فرمان بجای اصلاح نظام انتخاباتی روی تغییر کمیشنرها و افزایش صلاحیت‌های خارجی‌ها در امور انتخابات تمرکز شده بود.

تحلیل‌هایی نیز وجود دارد که اصلاح نظام انتخاباتی بیشتر به هدف تقسیم 50-50 کمیسیون‌ها و کمیسنرها می‌باشد و در این صورت نهادهای انتخاباتی استقلال نخواهد داشت و کاندیدان مستقل به پارلمان راه نخواهند یافت. به همین دلیل، حکومت باید به جای تغییر افراد روی اصلاح نظام تمرکز کند.

## نظر مردم در قبال اصلاحات انتخاباتی (سروی)


بخشی از یک سروی مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی نشان می‌دهد که اکثریت مردم کشور به شفافیت انتخابات آیندهٔ پارلمانی خوشبین نیستند. براساس این سروی ٪۷۱.۸۹ پرسش‌شونده‌گان به این باور اند که انتخابات آیندهٔ پارلمانی شفاف، و مستقل نخواهد بود و تنها ٪۱۰.۲ دیگر به شفافیت و استقلالیت این انتخابات باور دارند. بیشترین بی‌باوری در سطح افغانستان در ولایت های ننگرهار و بلخ ثبت گردیده است. (برای جزئیات بیشتر به شکل-۱ مراجعه کنید.)

**شکل1 : آیا انتخابات آیندۀ پارلمانی شفاف، و مستقل خواهد بود؟**





در پاسخ به پرسش دیگری در مورد برگزار کننده‌گان انتخابات پارلمانی آینده، سروی مرکز نشان‌دهندۀ نظریات مختلف مردم در این مورد است. ولی بیشترین پرسش شونده‌گان (46.9٪) به این نظر اند تا این انتخابات از سوی یک کمیسیون جدید مستقل برگزار شود. 34.11٪ به این باور اند که این انتخابات توسط کمیسیون فعلی انتخابات البته پس از آوردن اصلاحات در آن برگزار گردد و تنها 10.06٪ به برگزاری انتخابات توسط کمیسیون فعلی باورمند بودند. (برای معلومات بیشتر به شکل ـ۲ مراجعه کنید.)

### شکل2 : انتخابات پارلمانی آینده توسط کی‌ها برگزار گردد؟




نظریات مردم در قبال تلاش‌های حکومت برای تعدیل قانون انتخابات در دو سال گذشته متفاوت اند. 44.11٪ به این باور اند که این تلاش‌ها درست نمی‌باشد و 43.65٪ دیگر بر درست بودن این تلاش‌ها باورمند اند.( برای معلومات بیشتر شکل-۳ را ببینید.)

### شکل-۳: به نظر شما تلاش‌های حکومت افغانستان برای تعدیل/تغیر نظام انتخاباتی به جاست؟



## نتیجه‌گیری

روند اصلاحات انتخاباتی که یکی از پیش‌شرط‌ها برای برگزاری انتخابات آینده بود، بسیار بطی بوده و با توجه به تأخیر در اصلاح نظام انتخاباتی، اکثریت مردم به برگزاری انتخابات پارلمانی آینده در زمان معین‌اش خوشبین نیستند. ولی ریاست جمهوری به برگزاری انتخابات در وقت معین‌اش تأکید می‌ورزد.

براساس معلومات یک منبع ریاست جمهوری، تصمیم بر آن است که انتخابات پارلمانی آینده باوجود همه مشکلات در زمان تعین شده‌اش برگزار خواهد شد. هرچند برگزاری انتخابات در زمان تعین شدۀ کنونی، چالش بزرگی برای حکومت خواهد بود.

پس از رد فرمان اخیر رئیس جمهور در مورد اصلاح نظام انتخاباتی، ریاست جمهوری اعلام داشت که پروسۀ اصلاحات انتخاباتی را پس از مشوره با نهادهای حقوقی تعقیب خواهد کرد. ریاست جمهوری تأکید می‌ورزد که حکومت به برگزاری انتخابات در وقت معین آن متعهد است و از همین‌رو کمیته‌های مالی و امنیتی را گماشته است و پس از مشوره با نهادهای حقوقی در این مورد تصمیم خود را اعلام خواهد کرد. این‌بار ممکن حکومت افغانستان فرمان اصلاح نظام انتخاباتی را به ستره محکمه بفرستد.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.